محمد هارون خیل شعشعی

۱۷ جولای ۲۰۱۳

د علي محمد مخلص د ژوند اجتماعي او فرهنګي حالات:

لومړۍ برخه

علي محمد مخلص (تر ۱۰۶۹ق کال پورې په یقین سره ژوندی) د هندي ټولنې په خاصو تاریخي، اجتماعي، کلتوري او فکري شرایطو کې ژوند کاوه. په دې شرایطو کې د هندوستان په مسلمانانو کې ځینو نورو اسلامي ټولنو غوندې د پیرۍ او مریدۍ بازار خورا ګرم ؤ. په هندي مسلمانانو کې د تصوف او طریقت دې ژور نفوذ ځان ته خاص سیاسي او اجتماعي علتونه لرل. تاریخ شاهد دئ، چې خلګو په مرکزي اسیا، افغانستان، ایران، مصر، هند او شاوخوا سیمو کې د چنګیزیانو تر وحشتناکو وژونو، مظالمو او ورانیو وروسته د ژوندانه له بېلابېلو ناخوالو څخه د تېښتې په هیله د تصوف او طریقت و مرکزو ته مخه کړه. د اولیاوو خانقاوې د دردمنو او ستمځپلو خلګو د غونډېدو او پیوستون په لویو مرکزو واوښتې.[۱] سیاسي واکمنانو د دې حقیقت په پوهېدو سره هلې ځلې وکړې، چې په هره ممکنه وسیله د دغو مرکزو په روحاني مشرانو کې خواخوږي او مخلصان و موميې؛او له دې لارې د ټولنې پر سپېڅلو او مظلومو خلګو حکومت وکې. د تاریخ په سینه کې داسې مثالونه خورا ډېر دي، چې مستبدو حاکمانو د خپل ظالمانه واک د اوږدولو یا ناروا پرېکړو د مشروعیت دپاره د طریقت او روحانیت و پیشوایانو ته سرونه ټیټ کړي دي؛ او د خلګو په زړونو کې(کې یې) د هغو له مینې او نفوذ څخه ناوړه ګټه اخیستې ده. د اسلامي تصوف او عرفان وتلی شخصیت او نامتو شاعر- نورالدین عبدالرحمان جامي(۸۱۷ هـ ق/ ۱۴۱۴ع - ۸۹۸ هـ ق/ ۱۴۹۲ع)، په بابا صاحب یا بابا ولي مشهور، حسن ابدال کنداري سبزواري[۲]،په پیر بابا مشهور د قنبر علي زوی، سید علي، هغه روحاني شخصیونه وه، چې له تیموري او ګورګاني واکمنانو سره یې ټینګ تعلقات لرل. پیر بابا(د امیر تیمور د خور له پښته) او د هغه خواخوږی، اخوند درویزه، هغه کسان وه، چې د پیرۍ او روحانیت په جامه کې پښتانه د روښاني غورځنګ پر خلاف د هند د مغولي واکمنانو و اطاعت او همکارۍ ته ور بلل. تر دوی وروسته هم د دې هیواد په تاریخ کې له روحاني متنفذینو څخه د سیاسي هدفو د تأمین په لار کې ګټه اخیستل سوې ده. زموږ په زمانو کې هم داسې مثالونه لږ نه دي، چې سیاسي واکمنانو د خپل کرغېړن واک د اوږدولو او نورو ناروا نخشو د تحقق دپاره د طریقت او روحانیت و مرکزو ته پناه وړې ده؛ او د ځینو تش په نامه روحاني شخصیتو په رانیولو یا کرایه کولو سره یې د استبداد، پسات(فساد) او بې عدالتیو نظامونه جاري ساتلې دي.

د هندوستان ستر مغولي پاچا- جلال الدین محمد اکبر(۹۶۳هـ ق/ ۱۵۵۵ع - ۱۰۱۴هـ ق/ ۱۶۰۵ع) په اسلامي تصوف، یهودیت، مسیحیت، هندوییزم، جینیزم، بودیزم، زردشتي دین او نورو فکري- مذهبي ډلو کې د خپل سیاسي نفوذ د پراخلو دپاره، په فتح پور سیکري کې د عبادتخانې په نامه ځانګړې ودانۍ جوړه کړه، چې هره جمعه

بې(به يې) ديني مباحثې او مناظرې پکښې کولې.[3] په « عبادتخانه » کې به صوفيانو، فيلسوفانو، نطاقانو، حقوقپوهانو، سني او شيعه عالمانو، برهمنيانو، ملحدانو، د جينيزم او بوديزم پيروانو، يهودانو، مسيحانو، زردشتيانو او داسي نورو اندېشمندو کسانو برخه اخيستله.[4] جلال الدين اکبر د همدې سياسي نفوذ په مخسدوروسته د خپلو درباريانو په کومک د« الهي دين » په نامه يو داسي دين جوړ کئ، چې د بېلابېلو اديانو او فکري ډلو عقايد او افکار پکښې يوځای سوي وه. د « الهي دين » د لارښوونو او حُکمونو له مخې، و اکبر پاچا ته د« خليفة الزمان » يا« کامل انسان » مقام ور کړل سو. د « الهي دين » پيروانو به کليمه داسي ويله: لااله الاالله اکبر خليفة الله. د دوی په نظر خليفة الله ته اخلاص څلور درجې لرلې: مال پرېښوول، ناموس پرېښوول، دين پرېښوول او د خليفه په لار کې تر ځان تېرېدل. اکبر، د دې مقام په تر لاسه کولو سره رسماً واک لاره، چې د يوه « عادل پاچا» په توګه د مختلفو مذهبي او فکري ډلو د لانجمنو او کړکېچنو ديني او فکري مسألو د حلولو په خاطر پرېکړې وکې.[5] مغولي امپراتور او درباري ملازمانو په دې هم بسنه و نه کړه. د اسلام د سپېڅلي دين زياتره حُکمونه يې زاړه او نابابه و بلل. څه موده وروسته يې د تفسير او فقهي لوستل هم پرېښوول.[6] د هجري تاريخ پر ځای يې د « الهي تاريخ » په نامه يوه بېل تاريخ را و ايستئ، چې د اکبر د پاچهی له زماني(۹۶۳ هـ ق/ ۱۵۵۵ع) څخه شرو(شروع) کېدئ. سره له دې هم د دې مهال مشهور مورخ، حاجي عارف کنداری،کاږي چې اکبر په ټولو ماجتو(مسجدو) کې د اميرالمؤمنين په نامه يادېدئ. د دې زماني بل نامتو مورخ، ملا عبدالقادر بدايوني، راوړي دي چې له « الله اکبر » څخه د جلال الدين اکبر مخسد نه يوازې د خدای تعالی لويوالی، بلکي د ځان لويوالی هم ؤ.[7]

ډاکتر محمد عبدالحق انصاري په خپل اثر« تصوف او شريعت » کې د شېخ احمد کابلي سرهندي المجدد الف ثاني(۹۷۱هـ ق/ ۱۶۲۴ع ۱۰۳۴-هـ ق/ ۱۶۶۴ع) د نظرياتو له مخې د دې مهال د ټولنيزو او فرهنګي شرايطو په باره کې داسي ليکي:« مسلمانانو د خپلو ديني عقايدو او رواجو د نه پېژندلو په وجه د غيرمسلمانانو په مذهبي مراسمو کې پراخه برخه اخيستله؛ د ډول ډول غوښتنو دپاره بې د هغوی و خدايانو ته دوعاوې کولې؛ د څراغو او شمو(شمعو) په لګولو سره بې د هندوانو د« راکهي » او« ديوالي » جشنونه لمانځل؛ او د مسلمانانو په دغه راز ديني پسات (فساد)کې به جاهلو صوفيانو هم ستره ونډه لرله.[8] د هغوی په سپارښتنه به عامو خلګو و مشايخو ته نذرونه او خيراتونه ور وړل؛ او پر مزارو بې قرباني کولې. زياترو صوفيانو به تر فرض او سُنت، و فکر او ذکر ته ډېر ارزښت ورکاوه؛ د سماع غونډې بې جوړولې؛ او په روحاني نڅاوو به اخته وه؛ د جمعې او جماعت لمانځه ته بې شا اړولې وه، خو د څلوېښتو ورځو هغه روحاني تمرينونه بې په ډېر ټينګار او توجه سره کول، چې د « چلې » يا « اربعينت » په نامه يادېږي؛ د پيرانو او مرشدانو د اوداسه اوبه به د تبرک او تيمن په ډول و مريدانو ته د څښلو دپاره ورکول کېدې.[9]

د جلال الدين اکبر د زوی- نورالدين سليم جهانګير (۱۰۱۴هـ ق/ ۱۷۰۵ع - ۱۰۳۷هـ ق/ ۱۶۲۸ع) د ديني عقيدې په باب هم بېل بېل نظرونه وړاندې سوي دي. ځينو ملحد، ځينو مسيحي، ځينو په بېلابېلو مذهبو کې د چاڼ کوونکي او ځينو نورو د پلار د« الهي دين » پيرو ګڼلئ دئ.[10]خو دا خبره زياترو مورخانو منلې ده، چې جهانګير په هندي ټولنه کې د بېلابېلو اديانو، ژبو او نژادي ډلو تر منځ د اړيکو د تنظيم په اړه د پلار د زغم، برابری او ازادی اصول پر مخ بېول. دا وخت په هندي مسلمانانو کې د قادريه، چشتيه، سهروردیه، نقشبنديه، ملتانيه، بهاييه، شاذليه او ځينو نورو په ګډون د څورلسو تصوفي طريقو پيروانو فعاليت کاوه. د پروفيسر عبدالرشيد په نظر، که څه هم جهانګير د ازادخيالو صوفيانو له خوا روزل سوئ ؤ، خو وروسته يې د سخت او افراطي اسلام و خوا ته ګامونه واخيستل، تر څو په دې وسيله د پلار د ليبرل ديني سياست او متعصبو مسلمانانو تر منځ انډول او برابري راولي.[11]

د شاه جهان په زمانه کې د تصوفي حلقو او مغولي دربار ترمنځ بيا نيژدې او ټينګې اړيکي پيداکيږي. شازاده(شهزاده) داراشکوه (۱۰۲۴هـ ق/ ۱۶۱۵ع - ۱۰۶۹هـ ق/ ۱۶۵۹ع) په خپله له تصوف او عرفان سره زياته مينه ښيي؛ او تر زياتو کوښښو وروسته پر اسلامي عرفان سربېره په بېلابېلو هندي اديانو کې د رياضت او تصوف په اړه په زړه پوري څېړني کيږي. د داراشکوه « سفينة الاولياء »،« سکينة الاولياء »،« مجمع البحرين »،« رسالهٔ حق نُما »،« حسنات العارفين »، او « سِر اخبار يا سِرالاسرار » د هغه وخت په عرفاني ټولنو کي د ارزښتناکو اثارو په توګه يادېدل.[12]د داراشکوه عرفاني نظريو د مغولي دربار او خپلي کورنی پر غړو پراخه اغېزه وښندله. خور(جهان آرا) او وربرې(زيب النساء) يې د ده د عرفاني افکارو د نفوذ په وجه د تصوف او عرفان نړۍ ته مخه کړه. جهان آرا د پلار تر بندي کېدو او مړيني وروسته هم و ديني او روحاني چارو توجه کوله. په ۱۶۴۴ع کال د سوځيدو له يوې خطرناکي پېښي څخه تر جوړېدو وروسته په اجمير کي د خواجه معين الدين چشتي و مزار ته ولاړه؛ او هغه ته نيژدې يې د« بېګمي دالان » په نامه ودانی جوړه کړه. وروسته يې د « مؤنس الارواح »، « خزاين الاصفيا » او« رسالهٔ صحبيه » په نامه اثار وکښل.[13]که څه هم اورنګزېب خپله په شاهي دربار کي د شعر او شاعرانو د پخواني تشويق او ترغيب مخه ونيوله؛ خو لور يې(زيب النساء)، چي په شعر کي مخفي تخلص کاوه، همېشه د شاعرانو مادي او مانوي(معنوي) سيله کوله. دې په خپله هم د عرفاني ميني په جوش او خروش کي سوزناکي غزلي و ويلي، چي د مجازي ميني په جامه کي حقيقي مينه بيانوله.[14]

د محی الدين اورنګزېب عالمګير (۱۰۶۸هـ ق/ ۱۶۱۸ع - ۱۱۱۸هـ ق/ ۱۷۰۷ع) تر آمرانه او ظالمانه پاچهۍ پوري د هندوستان د ګورګاني مغولو او د دکن د خپلواکو پاچهانو دربارونه د سلطان محمود غزنوي د دربار په څېر د لويو شاعرانو، ليکوالو، مورخانو، پوهانو او هونرمندانو د کار او فعاليت مرکزونه وه. زموږ د تاريخي هيواد د هغه مهال پياوړو شاعرانو، ليکوالو، مورخانو، عالمانو، نقاشانو، خطاطانو، معمارانو او نورو نامتو استادانو هورې ادبي، علمي او هونري کارونه کول. بايزيد پوراني هروي، سلطانعلي اوبهي، عارف کابلي، عبدالصمد بدخشي، محمد صالح بدخشي، ياري هروي، ويکتا بلخي، آتشي کنداري، ميرمحمد معصوم نامي کنداري بکهري، سطان کنداري، حاجي عارف کنداري، خواجه زاده کابلي، سوسنی کابلي، ارزاني، اماني کابلي، الله يار بلخي، تامش محمد کندوزي، اماني کابلي، فېروز کابلي، باقي بالله کابلي، بنايي کابلي، بېکسي غزنوي، جهانګير هروي، حسام الدين بدخشي، خواجه حسن، استاد فيضي، ساغري هروي، کاهي کابلي، ملاشاه بدخشي، شيدا بلخي، صبوحي بدخشي، صبوحي کابلي، نيازي بدخشي، عبدالرزاق مدرس کابلي، عزت هروي، عشقي کابلي، عوض محمد بلخي، عياني کابلي، غيوري کابلي، فاضل کابلي، فخري هروي، مير فخرالدين ميمنه ګي، فصيحه هروي، فيض هروي، کامل بدخشي، کمالي شبرغاني، لعلي بدخشي، مدعي بدخشي، ميرکلان هروي، ميرک هروي، نعمت الله هروي، هدايت بدخشي او ډېر نور د هغو شاعرانو، ليکوالو، مورخانو او فرهنګيانو په ډله کي وه، چي يوازي د خراسان يا اوسني افغانستان له بېلابېلو سيمو څخه د هندوستان د مغولي پاچهانو په دربارو کي په ادبي، علمي، هونري او فرهنګي چارو بوخت وه.[15]پر دغو پياوړو او مخکښو افغان فرهنګيانو سربېره، هندي، ايراني او تورک ټبره شاعرانو، مورخانو او عالمانو هم په مغولي دربار او نورو خپلواکو پاچهيو او نوابيو کي ارزښتناک مقامونه لرل. په دې ډله کي ايراني شاعر، طالب آملي، د جهانګير د دربار د ملک الشعراء مقام درلود.[16]د دغو مغولي پاچهانوپه زمانو کي د اسلامي عرفان، ادب، تاريخ، طبابت او نورو علومو په باره کي په زړه پوري او ارزښتناک اثار وليکل سول، چي د ځينو لنډه او پاشلي يادونه يې د دې عصر د اجتماعي او فرهنګي حالاتو په پېژندنه کي بې ګټي نه ده:

- « بابرنامه » د ظهيرالدين محمد بابر اثر دئ، چي د« واقعات بابري » يا« توزک بابري » په نامه هم ياد سوئ دئ؛ او د(۸۹۹ - ۹۳۶ هـ ق) کلونو حالات بيانيي. دا کتاب اصلاً په چغتايي ژبه کښل سوئ دئ، چي وروسته

يي بېلابېلي برخي د شېخ زين الدين خوافي(وفايي)، ميرزا پاينده حسن غزنوي او محمد قلي حصاري له خوا په پاړسي ترجمه سوي دي.[۱۷]

- « همايون نامه » د ګلبدن بېګم په قلم کښل سوې ده، چي د پلار او ورور(بابر او همايون) د سياسي حالاتو بيانونه لري.[۱۸]

- « لطايف الطوايف » د علي کاشفي هروي اثر دئ، چي په (۱۵۲۹ع / ۹۳۶ق) کي ليکل سوئ دئ.

- حميد بن فضل الله په(۱۵۳۶ع) کي خپل« سيرالعارفين » وکښئ، چي د ځلورو سوو چشتيه او سهروردیه پيرانو د ژوند او اثارو په باره کي مالومات وړاندي کيي.

- په (۱۵۳۹ع / ۹۴۶ ق) کي حکيم يوسفي هروي د دارو درملو او طبي نوخسو په باره کي خپل « رياض الانشاء» کتاب و ليکئ. دي مؤلف د« جامع الفوايد»،« بدايع الانشاء »،« طب يوسفي »،« فوايد الاخيار »،« ستهٔ ضروريه »،« قصيدهٔ حفظ الصحه »،« علاج الامراض »،« ملحقهٔ علاج الامراض»،« دلايل النبض »، « دلايل البول »،« رسالهٔ ماکول و مشروب »په نامه نور طبي او علمي اثار هم تأليف کړي دي.[۱۹]

- « تاريخ رشيدي » د ميرزا محمد حيدر ګورګان تأليف دئ، چي په(۱۵۴۵ع / ۹۵۲ق)کي ليکل سوئ دئ.

- « سلسلهٔ احرار» د خواجه باقي بالله بن قاضي عبدالسلام کابلي له خوا و ليکل سو.

- په (۱۵۶۶ع / ۹۷۴ق)کي سيد حسين خواجه نقيب الله نثاري بخاري د« شعراء مذکر احباب » په نامه تذکره وکښله.[۲۰]

- عبدالطيف منشي په (۱۵۷۶ع / ۹۸۴ق) کي خپل « نفايسِ کلام و عرايص اقلام » و ليکئ، چي د خاندېش و وروستي خپلواک واکمن، راجا علي خان فاروقي، ته اهداء سوئ دئ.[۲۱]

- « مقطع » د حاجي عارف کنداري هغه اثر دئ، چي په (۱۵۷۸ع / ۹۸۶ق)کي ليکل سوئ دئ؛ او د سلطان محمود غزنوي له زماني څخه يي د جلال الدين اکبر تر پاچهۍ پوري حالات بيان کړي دي. د دې مورخ بل مشهور اثر « مطلع يا تاريخ اکبري » نوميږي.

-« تاريخ شېرشاهي » د عباس سرواني تأليف دئ، چي په (۱۵۷۹ع / ۹۸۷ق) يا (۱۵۸۶ع / ۹۹۴ق) کي بشپړ سوئ دئ. څنګه چي له نامه څخه يي ښکاري، د شېرشاه سوري د کورنۍ او پاچهۍ پر حالاتو خبري کيي.

-« واقعات مشتاقي »د سوري پاچهانو د حالاتو په باب د شيخ رزق الله تأليف دئ، چي په(۱۵۸۱ع / ۹۸۹ق) کال کي بشپړ سوئ دئ.

- قاضي نظام غازي خان بدخشي په (۱۵۸۴ع / ۹۹۲ق) کي د « شرح عقايد» حاشيي وکښلي.

- « فواتح الولاية » او « صلصلة الجرس » هم په (۱۵۸۴ع / ۹۹۲ق) کال د ملا عالم ګلبهاري له خوا تأليف سول.

- « تاريخ افاغنه يا تاريخ خان کجو » په (۱۵۸۴ع / ۹۹۲ق) کال د خواجو مليزي له خوا وکښل سو، چي وروسته يي لنډه بڼه د« تواريخ رحمت خاني » په نامه د پير معظم شاه په قلم خپره سوه.

- جوهر آفتابچي خپل « تذکرة الواقعات » په (۱۵۸۶ - ۸۷ / ۹۹۵ق) کي وليکئ، چي د همايون د پاچهي پر حالاتو خبري کيي.[۲۲]

- مولانا سلېمان هروي انصاري په (۱۵۹۲ع / ۱۰۰۱ق) کي خپل « مقامات العارفين » او « مرآة السالکين » وکښل.

- « منتخب التواريخ يا تاريخ بدايوني » د ملا عبدالقادر بدايواني مشهور تاريخي اثر دئ، چي په (۱۵۹۵ع / ۱۰۰۴ق) کال، په درو ټوکو کي و ليکل سو. لومړی ټوک يي د بابر او همايون، دوهم ټوک يي د جلال الدين اکبر او دريم ټوک يي د مسلمانو د ديني عالمانو، پوهانو، طبيبانو او شاعرانو د ژوند او اثارو په اړه خبري کيي.

- د نقشبندي صوفي، شيخ هاشم کشمي بن خواجه قاسم، تأليف « زبدة المقامات » په (۱۵۹۵ع / ۱۰۰۴ق) کي وکښل سو.[۲۳]

- « اکبرنامه » چي دريم ټوک يي د « آيين اکبري » په نامه مشهور دئ، د اکبر پاچا د اديب، مورخ، منشي او وزير، ابوالفضل علامي يا ابوالفضل دکني مشهور اثر دئ، چي د دايرة المعارف په بڼه ليکل سوئ دئ؛ او د اکبر پاچا د پاچهی تر شپږ څلوېښتم کال (۱۰۰۹- ۱۰۱۰ق) پوري د مغولي امپراتورۍ پر سياسي، اجتماعي، فرهنګي، فکري او نورو برخو رڼا اچيي. « پيل پای »،« انشای ابوالفضل »،« رقعات »، « مجموع لغات » او « تفسير آية الکرسي » يي نور اثار دي.

- « توزک جهانګيري يا جهانګيرنامه » د بابرنامي په ډول وليکل سوه. دا کتاب د نورالدين سليم جهانګير د پاچهی تاريخي پېښي بيانيي. د دې کتاب د لومړيو اولسو(۱۷) کالو خاطري په خپله د جهانګير له خوا کښل سوي دي. وروستی برخي يي د « اقبال نامي » د مؤلف، معتمد خان، او تر هغه وروسته د ميرزا هدايت خان له خوا بشپړي سوي دي.

- « طبقات اکبري »د خواجه نظام الدين احمد هروي له خوا تأليف سو.

- شيخ عبدالحق محدث دهلوي د صوفي مشايخو په باره کي د « اخبار اخيار » په نامه تذکره وليکله.

- په (۱۶۰۵ع) کي د « اخبار اصفيا » په نامه تذکره وکښل سوه، چي د دوو سوو پينځوسو(۲۵۰) صوفيانو پر ژوند او اثارو رڼا اچيي.

- په (۱۶۰۵ - ۱۶۱۶ع) کلونو کي د محمد غوث نظري په زيار د صوفيانو يوه بله تذکره وليکل سوه.

- محمد قاسم (په ديوانه سيد عطايي مشهور) د مشهور صوفي شخصيت، سيد جمال الدين، په باره کي د « مناقب الاخيار » په نامه کتاب تأليف کئ.

- محمد کبير بن محمد اسماعيل خپل« افسانهٔ شاهان »کتاب وليکئ، چي د لودي او سوري حکومتو بيانونه لري.[۲۴]

- د بهيګ خان زوی احمد خان کنبو په (۱۶۱۱ع / ۱۰۲۰ق)کال په هند کي د پښتنو پر احوالو خپل « معدن اخبار احمدي يا مجمع التواريخ » وکښئ.

- په (۱۶۱۰ع / ۱۰۲۰ق) کي د ناپېژندل سوي مؤلف له خوا د روضي او برهانپور د اولياوو او مشايخو په باب د« فتح الاولياء » په نامه کتاب وکښل سو، چي په برهانپور کي د مغولو و نايب السلطنه(عبدالرحيم خانِ خانان) ته اهدا سوئ دئ.[۲۵]

- د خواجه حبيب الله هروي زوی- نعمت الله هروي نورزي په (۱۶۱۳ع / ۱۰۲۱ هـ ق) کال د هند په برهانپور کي خپل مشهور تاريخي اثر« مخزن افغاني يا تاريخ خانجهاني » وليکئ.

- احمد يادګار هم خپل « تاريخ شاهي معروف به تاريخ سلاطين افاغنه » په (۱۶۱۳ع / ۱۰۲۱ق هـ ق) کي وکښئ.

- محمد غوثي په (۱۶۱۳ع / ۱۰۲۲ق) کي د« ګلزار ابرار » په نامه کتاب وليکئ، چي د ګجرات او غربي هند و صوفيانو ته اهدا سوئ دئ.[۲۶]

- محمد صادق کاشمیري همداني په خپل « کلیمات الصادقین » کې د هغو یو سلو پینځه ویشتو صوفي پیرانو او مرشدانو احوال بیان کړی، چې په دیلي (دهلي/ ډهلي/ ډیلي) کې ښخ دي(۱۶۱۴ع).[۲۷]

- « مآثر رحیمي » د عبدالباقي نهاوندي اثر دی، چې په (۱۶۱۶ع / ۱۰۲۵ق) کې وکښل سو. دا اثر په برهانپور کې د مغولو و نایب السلطنه(عبدالرحیم خانِ خان) ته اهدا سوی دی؛ او د هغه په دربار کې د پاړسي ژبو شاعرانو د ژوند او اثارو په اړه مالومات وړاندي کیي.[۲۸]

- محمد صادق همداني د اووه اتیا صوفیانو د ژوند او اثارو په اړه د « طبقات شاه جهاني » په نامه تذکره وکښله.

- بدرالدین سرهندي د نقشبندیه طریقي د پیرانو د احوال په باره کې د « حضرت القدس » په نامه فرهنګ ولیکئ.

- پیرمحمد حنیف پلوسي په (۱۶۲۰ع / ۱۰۳۰ ق) کې« مجموعۀ تاریخ افغانان » اثر وکښئ، چې موضوعات یې له مخزن افغاني، مخزن اسلام او تذکرة الابرار و الاشرار څخه اقتباس سوي دي.

- ابراهیم بیټني په (۱۶۲۰ع / ۱۰۳۰ ق) کال « الحاقات بر مخزن افغانی » ولیکئ.

- میر جمال الدین حسین بن فخرالدین حسن انجو شیرازي په (۱۰۳۲ق) کې خپل لغوي قاموس « فرهنګ جهانګیري » و مغولي امپراتور(جهانګیر) ته اهداء کئ، چې اصلاً په (۱۰۱۷ق) کې بشپړ سوئ ؤ.

- هندو لیکوال، اېرآو بهولانات، په (۱۶۴۱ع) کې د « صاحبیا » په نامه اثر تألیف کئ.

- په (۱۶۴۶ - ۱۶۵۷ع) کلونو کې الهدیه بن عبدالرحیم چشتي عثماني خپل کتاب ته « سیر الاقطاب » نوم ور کئ، چې د اووه ویشتو(۲۷) مسلمانو پیرانو د ژوند او اثارو په اړه مالومات وړاند ي کیي.

- « تواریخ افغان » په (۱۶۲۲ع / ۱۰۳۳ ق) کې د حسین خان له خوا په پښتو او پاړسي ژبو تألیف سو.

- « تاریخ داودي » د عبدالله له خوا وکښل سو، چې د لودي او سوري پاچهانو د احوالو په باب خبري کیي.

- رشید خان توني په (۱۶۵۲ع / ۱۰۶۳ ق) کې د داراشکوه په مشرۍ د مغولي لښکرو له خوا د کندهار د کلابندۍ په باره کې خپل « لطایف الاخبار یا تاریخ قندهار » وکښئ.[۲۹]

- مؤبد کیخسرو اسفندیار زردشتي په (۱۶۵۳ع / ۱۰۶۳ ق) کال خپل مشهور اثر« دبستان مذاهب » تألیف کئ، چې د بېلابېلو ادیانو او فکري ډلو پر نظریو او عقایدو سربېره د روښانیانو د عرفاني نظریو او مغولي ضد مبارزو په باره کې هم پراخ او په زړه پوري مالومات وړاندي کیي.

- ملا عبدالحمید لاهوري « بادشاه نامه » وکښله، چې د شاه جهان د پاچهۍ د لومړیيو شلو کالو تاریخ ښیي.

- « عمل صالح یا شاه جهان نامه » د محمد صالح کنبو(کمبو) له خوا وکښل سوه، چې د شاه جهان د پاچهۍ بشپړ غیرسرکاري تاریخ ګڼل کیږي.[۳۰]

- په (۱۶۵۴ع) کې د عبدالرسول چشتي له خوا د « مرأت الاسرار » په نامه تصوفي اثر میدان ته را ووتئ. دې لیکوال وروسته د مهانپور د شاه مدار په باب د « مرأت مداري » په نامه تذکره هم ولیکله.[۳۱]

- علاء الدین محمد چشتي برنوي په (۱۶۵۵ - ۱۶۵۶ع) کې د چشتیه طریقي د پیرانو پر احوال خپل « چشتیه بهشتیه » اثر و لیکئ.

- محمد امین بدخشي د نقشبندیه طریقي د صوفیانو د ژوند او زده کړو په اړه د « مناقب الحضرات » په نامه کتاب تصنیف کړ.

- محمد بقا سهارنپوري په (۱۶۷۹ - ۱۶۸۰ع) کې د راشدو خلیفه ګانو، امامانو او صوفیانو په باره کې خپل تألیف ته « ریاض الاولیاء » نوم ور کئ.

- شېخ محمد غوث ګواليارې د تصوفي نظريو په اړه د « کليد مخازن » په نامه اثر وکښئ.

- شېخ جلال الدين تانيسري د وحدت الوجود په باب « ارشاد الطالبين » رساله وليکله.

- د وحدت الوجود په باره کې د « معارف لودهيانه » په نامه بل کتاب هم وکښل سو.

- په المجدد الف ثاني ملقب، شېخ احمد کابلي سِرهندي(۹۷۱هـ ق/ ۱۶۲۴ع - ۱۰۳۴هـ ق/ ۱۶۶۴ع) مکتوبات امام رباني(ټول پينځه سوه شپږ دېرش خطونه يا مکتوبونه، چې په درو ټيلو ټوکو کې اوډل سوي دي) او« اثبات نبوة » اثار وليکل.

- محمدصديق کشمي د شېخ احمد کابلي سِرهندي له افاداتو څخه « مبداء او معاد » وليکئ.

- په (۱۶۵۲ع) کې له داراشکوه سره د بابالال د مباحثو او مناظرو کتاب وليکل سو.

- په همدې زمانه کې د اوولسمي پېړۍ د صوفي لاربنود، شاه کليم الله اکبرآبادي « ملفوظات » نومی اثر ميدان ته را و وتئ.[۳۲]

- سيد نظام الدين محمد معصوم نامي کنداري بکهري « تاريخ سند يا تاريخ معصومي » وليکئ. له سيد معصوم نامي څخه پر « تاريخ سند يا تاريخ معصومي » سربېره نور ارزښتناک اثار هم پاته دي، چې د ځينو نومونه يي دا دي:« طب نامي »، مفردات معصومي(په طب کې)، د اشعارو ديوان او د « معدن الافکار »، « حسن و ناز »، « اکبرنامه » او « پري » په نامه څلور مثنوي ګاني.[۳۳]

ماخذونه او يادښتونه

[۱] پوهاند عبدالحی حبيبی، تاريخ مختصر افغانستان،۲ج (کابل: انجمن تاريخ و ادب، اکادیمی افغانستان، ۱۳۴۹) ج ۱: ۵۳ - ۵۴.

[۲] سبزوار د شينډنډ پخوانی نوم دئ، چې د اوسني تشکيل له مخې د هرات ولايت يوه اولسوالي ده.

[3] Dr S. Roy, The Mughul Empire: The History and Culture of the Indian People 134.

[4] Dr Roy 135. [5] Dr Roy 135, 140.

[۶] مير غلام محمد غبار، افغانستان در مسير تاريخ(ايران : مرکز نشر انقلاب با همکاری جمهوری، ۱۳۶۸) ۱۶۷.

[7] Dr Roy 135.

[8] Dr Muhammad Abdul Haq Ansari, Sufism and Shari'ah: A Study of Shaykh Ahmad Sirhindi's effort to reform Sufism (Leicester: Islamic Foundation, 1986) 21.

[9] Dr Ansari 22.

[10] Prof Abdul Rashid, The Mughul Empire: The History and Culture of the Indian People 194.

[11] Prof Abdul Rashid 213.

[12] Sri A.L. Srivastva, Source, The Mughul Empire: The History and Culture of the Indian People, 7th Vol., 2nd ed. , edited by: Dr R.C. Majumdar (Bombay: Bharatiya Vidya Bhavan, 1974) 14.

[13] Prof A.K. Das, The Mughul Empire: The History and Culture of the Indian People 98.

[14] Prof Das 119.

[۱۵]غبار ۳۰۳.

[۱۶]دکتر صفا، تاریخ ادبیات در ایران، ۵ج، چاپ بیستم (تهران: ققنوس، ۱۳۸۱) ۱۰۵۹.

[۱۷]پوهاند عبدالحی حبیبي، د افغانستان تاریخي پېښلیک، لومړی ټوک (کابل: د بیهقي کتاب خپرولو مؤسسه، ۱۳۵۳) ۱۲، ۱۳۱.

[۱۸]دوست محمد خان کامل مومند، د افضل خان بن اشرف خان بن خوشحال خان ختک د تاریخ مرصع مقدمه، مقابله، تصحیح او نوټونه (پېښور: یونیورسټي بؤک ایجنسي، ۱۹۷۴) ی ه.

[۱۹]حبیبي، د افغانستان تاریخي پېښلیک ۱۲۲؛ حبیبی، « حکیم یوسف هروی: طبیب و منشی دربار بابر و همایون، » آریانا ۳ (۱۳۲۸) : ۱ - ۳ .

[۲۰] حبیبي، د افغانستان تاریخي پېښلیک ۱۲۸.

[21] http://www.iranicaonline.org/articles/deccan: POLITICAL AND LITERARY HISTORY

[۲۲]کامل مومند ی ه.

[۲۳] حبیبي، د افغانستان تاریخي پېښلیک ۱۳۴ .

[۲۴]کامل مومند ی.

[25] http://www.iranicaonline.org/articles/deccan: POLITICAL AND LITERARY HISTORY

[26] http://www.iranicaonline.org/articles/deccan: POLITICAL AND LITERARY HISTORY

[27] Srivastva, Source, The Mughul Empire: The History and Culture of the Indian People 14.

[28] http://www.iranicaonline.org/articles/deccan: POLITICAL AND LITERARY HISTORY

[۲۹]حبیبي، د افغانستان تاریخي پېښلیک ۱۴۵ .

[۳۰]کامل مومند ی و.

[31] Srivastva, Source, The Mughul Empire: The History and Culture of the Indian People 14.

[32] Srivastva, Source, The Mughul Empire: The History and Culture of the Indian People 15.

[۳۳] حبیبی، « میر محمد معصوم نامی،» آریانا ۶ (۱۳۲۵): ۳۷ - ۳۹.

پاته په بله برخه کي